ټل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ناپيلي، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه



انجنير عبدالقادر مسعود



# استاد ګل پاچا الفت زموږ د هيواد
# ملي، ولسي، لوی شاعر، پياوړی ليکوال او څېړونکی

اروانباد ګل پاچا الفت د پښتو ادب په ډګر کې هغه لوی شاعر، ادب پوه، ديني عالم، پياوړي ليکوال، سياست پوه، ټولنيز پوه، څېړونکي، تاريخ ليکونکي، او تکړه ژورناليست و، چې د ده په آثارو کې هنري ښکلا، ادبي اوفرهنګي،اجتماعي، سياسي علمي، اخلاقي او ملي تفکراو پيغامونه نغښتي دي، چې داوسنيو او راتلونکو نسلونو لپاره د يو لوی ادبي درس اومکتب حيثيت لري. زموږ هيواد وال بايد د خپل ژوند په مختلفو اړخونو کې ترينه خوند او پند واخلي.

استادګل پاچا الفت د مير سيدپاچا زوی او د سيد فقير پاچا لمسی دی چې په (۱۲۸۸)هجري شمسي کال کې دلغمان ولايت د قرغيو په ولسوالي کې د عزيز خان په کڅ کلي کې زيږيدلي دی.

استاد الفت صاحب د لوی او ځانګړي استعداد او ذکاوت خاوند شخصيت و. ده خپل علمي تحصيلات په خصوصي توګه په غيری رسمي مدرسو کې پای ته رسولي دي، او د مروجو او متداوله علومو لکه: فقهي اصول، صرف، نحو، معاني، بديع، بيان، عروض، منطق، حکمت، رياضي، علم کلام، تفسير، حديث، فلسفه او داسې نور علوم يې د لغمان او ننګرهار د ممتازو او نامتو استادانو څخه زده کړي او لوستلي دي او خپل بنستيز مالومات يې په دې هکله تکميل کړي وو.

استاد الفت صاحب د پورتنيو علومو او شخصي مطالعاتو وروسته په دغو رسمي او دولتي دوايرو کې خپلې دندې تر سره کړي دي:

ټول افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، نابیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

- په (۱۳۱۴) هجري شمسي کال کې د انیس ملي ورځپاڼې په دفتر کې د کاتب په حیث رسمي ماموریت.
- په (۱۳۱۵)هجري شمسي کال کې د ادبي انجمن (چې بیا پښتو ټولنه شوه)د تالیف او ترجمې په څانګه کې غړی شو.
- په (۱۳۱۶)هجري شمسي کال کې کله چې پښتو ټولنه جوړه شوه د زیري جریدې دچلوونکي په توګه مقرر شو.
- په (۱۳۱۸)هجري شمسي کال کې د پښتو ټولنې دصحافت د مدیریت د مرستیال په توګه مقررشو.
- په (۱۳۱۹)هجري شمسي کال کې د پښتو ټولنې د لغاتو او قواعدو دڅانګې د مدیر په حیث وټاکل شو.
- په (۱۳۲۰)هجري شمسي کال کې د اصلاح ورځپاڼې مشاور، د پښتو ټولنې عمومي مبصر او دکابل مجلې د چلوونکي په توګه وټاکل شو.
- په (۱۳۲۵)هجري شمسي کال کې د ننګرهار د اتحاد مشرقي د جریدې مدیر مقرر شو.
- په (۱۳۲۷)هجري شمسي کال کې د ننګرهار په ولایت کې د قبایلو د عمومي مدیر په توګه وټاکل شو.
- په (۱۳۲۸)هجري شمسي کال کې د جلال آباد دخلکو له خوا د شورا د اوومې دورې لپاره د وکیل په توګه وټاکل شو، چې بیا په ملي شورا کې دوهم مرستیال مقررشو.
- په (۱۳۳۰)هجري شمسي کال کې د ولس ملي جریده یې تاسیس کړه او تر (۱۳۳۲) هجري شمسي کال تر پایه د دغې جریدې د امتیاز خاوند و.
- په (۱۳۳۱)هجري شمسي کال کې د لغمان ولایت د قرغیو په ولسوالۍ کې د خلکو له خوا د ملي شورا د اتمې دورې لپاره د وکیل په توګه وټاکل شو.
- په (۱۳۳۴)هجري شمسي کال کې د جلال آباد دخلکو له خوا د لویې جرګې د وکیل په توګه مقررشو.
- په (۱۳۳۵)هجري شمسي کال کې په لومړۍ رتبه دپښتو ټولنې مشر وټاکل شو او د پوهنې وزارت د عالي شورا غړې مقرر شو.
- په (۱۳۳۸)هجري شمسي کال کې د افغان شوروي د دوستۍ د ټولنې ریس وټاکل شو.
- په (۱۳۴۳)هجري شمسي کال کې دکابینې غړې شو او دقبایلو د مستقل ریاست چارې ورو سپارل شوې.
- په (۱۳۴۴)هجري شمسي کال کې د ولسي جرګې د دوولسمې دورې لپاره د جلال آباد له خلکو له خوا د وکیل په توګه وټاکل شو.
- په (۱۳۴۸)هجري شمسي کال کې د ولسي جرګې په دیارلسمه دوره کې منتخب استازې و.

استاد الفت صاحب د حقوقو او ادبیاتو په پوهنځیو کې د پښتو ژبې د استاد په توګه هم دنده ترسره کړې ده.

استاد الفت صاحب دیو مخکښ، نوښتګر، نومیالي ادبي، فرهنګي، ملي او مبارز شخصیت په توګه په خپلو آثارو کې فلسفي، علمي او منطقي استدلال، سپیڅلي هیلې او آرمانونه دزړه غږ او ملي احساسات دخپل هیواد، خلکو، ټولنې او ټولنیزو روابطو او مناسباتو په هکله په داسې لویو او خیالي افکارو ترسیم او بیان کړي دي، چې زموږ هر هیوادوال د خپلو زړونو او آرمانونو مقاصد او اهداف په کښې موندلای شي. دالفت صاحب دآثارو څلا او ښکلا لکه د نورو درنو لیکوالانو او شاعرانو آثار د پښتو ادب په ډګر کې دتل لپاره روښانه او نه ورکیدونکي دي.

د الفت صاحب منظوم، منثور او څېړنیز آثار دا دي:

ټول افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ناپیلی، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه

د پسرلي نغمه، عالي افکار، دآزادي پيغام، ښه لمسون، دزړه وينا، غوره اشعار، دالفت خبري، لغوي
څیړنه، عالي افکار، پښتو کلي، منطق، غوره نثرونه. ليکوالي املا او انشا، اجتماعي نظريات، پښتو
سندري، ادبي بحثونه، ملي قهرمان، بله ډیوه
څه ليکل يا ليک پوهه، د ټولني په جوړښت کې د اسلام نقش، د الفت نثري کليات، نوی څرک يا نوې رڼا، څه ګورم او څه اورم،
بيلابيلې ليکنې او مقالې، منظوم عالي افکار (ژباړه)، دټولني علم (ژباړه)، دموفقيت لار(ژباړه)، لوړ خيالونه او ژور فکرونه
(ژباړه)، احمد شاه بابا افغان (ژباړه) او داسې نور آثار.........
په رښتيا سره چې الفت صاحب د ځانګړي هنري، ادبي او علمي استعداد خاوند شخصيت و. ده دخپلې پوهې، دقلم دفضيلت او د
کلام د عفت په وسيله خپلې ټولنې او خپلو وطنوالو ته ډير درانه او دستاينې وړ خدمتونه کړي دي، او د پښو ژبه يې دخپلو آثارو
په وسيله پاللې او بډايه کړې ده.د ده آثار د پښتو ادب په تاريخ کې لوړ مقام لري، او د پښتو ادب يې رنګين ساتلې دی.
دده دا هلې ځلې اوکارنامې دپښتوادب په تاريخ کې نه ورکيدونکي او نه هيريدونکي دي. همدا وجه ده چې د ده نوم به د ده
دآثارو په رڼا کې تل ژوندی وي.
الفت صاحب دخپل کار او خدمت په اوږده دوره کې هغه خدمتونه نوښتونه چې دخلکو او د ټولنې د ودې او پرمختګ لپاره کړي
دي دهغې وخت د مقاماتو له خوا لمانځل شوی هم دی. هغه سوغاتونه چې ده ترلاسه کړي دي دا دي:
د خوشحال خان ختک ادبي جايزه، د ابوعلي سينا علمي جايزه، د صدارت له خوا دويمه درجه تقديرنامه، د ستوري دريمه درجه
نښان، د پوهنې دويمه درجه نښان، دوکالت د دورو نښانونه، دلويې جرګې نښانونه او داسې نور............
استاد الفت صاحب يو متدين، پاک او سپيڅلي انسان، ريښتيني مسلمان، عالم، اديب، نامتو شاعر اوليکوال و. دی د تقوا
اوپرهيزګاری دروند شخصيت و، او د لويې حوصلې خاوندو. هر وخت غلې او خاموش ښکاريده، متواضع، حليم، برده باره او
بی کبره انسان و. ده د خدای پاک سره ، دوطن سره او د هيوادوالو سره د انسان او انساني کرامت سره سپيڅلې مينه او محبت
درلود.
دالفت صاحب د منظوم او منثور آثارو پيغام او مضمون ډير سليس ، روان او په زړه پورې دی. ده دخپل آثارو مضامين او
پيغامونه په داسې استدلال او منطق ترسيم کړي دي چې په لوستلو يې د خلکو په زړونو کې منګولې شخوي او ځان ته يې
راکاږي.
الفت صاحب د خپل علمي الفاظو په وسيله خپلې ادبي ټوټې داسې بيان کړې دي چې له هره حيثه زړه وړونکي او اغيزناکه دي.
همدا وجه ده چې د الفت صاحب نوښتګر شخصيت د ده داستادي ننبه تثبيتوي.
د ده په منظومو او منثورو آثارو کې دا خيالونه، تصويرونه، پيغامونه اولوړ فکرونه نغښتي دي:
د ځوانانو راويښول اود دوی عيبونه وربښودل، د بشري ټولنې اصلاحي اړخونه، د هيواد سمسورتيا او پراختيا، دملي احساس
روزل اوغوړيدل، عالي او خيالي افکار، اخلاقي او تربيوي معيارونه، انسان او انساني کرامت ته احترام، د آزادې،
ديموکراسې او خپلواکې پيغامونه، عدالت، انصاف او پاک نفسې، ملي او علمي تفکر، اتحاد، اتفاق، ملي هويت اويوالې،
ملي انساني اواجتماعي دردونه، د ترقي، پيشرفت او لياقت بنستيز معيارونه، دواقعي او عملي تصوف او عرفان په هکله
علمي او تحقيقي نظريات، د اسلام دحقيقي او سپيڅلي ارزښتونو نظريات او عملي ګامونه، دغريبانو، مظلومانو، مسکينانو،
خوارانو اويتيمانو سره خواخوږي او همدردي، د ظلم استبداد او بی عدالتې پر خلاف او د ظالم سره کلکه قلمي مبارزه او

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواک، ټاپیلی، نوشیره او فرهنګي ویب پاڼه

مجادله، د پښتون او پښتونولي سره ژوره مینه، دوستي، عشق، محبت، مینه او اخلاص، جذابیت او ښایست، وفا او صمیمیت، رښتیا او صداقت، د طبیعت د مناظرو ښکلا او د اسې نور عالي او انساني خصایل او ارزښتونه................
د بېلګې په توګه د الفت صاحب دا بیتونه ګورو چې وايي:

باغ و بڼ يې بې بلبله بې عندليبه
رنځوران يې بې دوا بې طبيبه
څه په لوږه، څه په تبه، څه په تيغ مري
ورک شه ورک شه د پښتون خوار نصيبه
که يې ښه پوره په حال باندې خبر شې
خدايږو ته به هم پرې وژاړې رقيبه
ناپوهي، خواره خواري ده او پښتون دی
کور يې وران، کار يې ګډوډ او بې ترتيبه
لاس يې يو ځای، سر يې بل ځای، پښه يې بل ځای
پښتانه ټوټې ټوټې دي بې ترکيبه
نه ډوډی لري، نه پوهه نه تعليم څه
بې له توري نور له هر څه بې نصيبه
چې رښتين، خادم يې وينم بينوا دی
پښتو ژبه ده په ژبو کې غريبه
که غمخور، همدرد، خواخوږی او دردمند يې
ژاړه ژاړه د پښتون په حال حبيبه
توره مه ستايه هنر ورله ستايه
چې نور هم نشي مجروح پښتون اديبه

او یا وايي:

باداري پريږدی خادمان شی د وطن او د قام
په خوار غريب شی پس له دې لږ مهربان غونډې
هلته چې يو انسان د بل لکه غلام او سيږي
په هغه ځای د خدای لعنت اوري باران غونډې
باداري نشته په اسلام کې نه په کفر کې او س
تاسې يې نوره تينګه مه ساتی ایمان غونډې

تل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ټاپیلی، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه



او یا وایي:

راځی چې یو شان د ملګریو په شان کینو سره
غرور او کبر پرېښودل که نه وي ګران غوندې
د ملګرتیا ژوند کې خوندونه او خیرونه دي ډیر
تاسې یو څو ورځې خو وکړی امتحان غوندې

نورو سره ځان برابر ګڼل مشکل مه ګڼه
مشکل کارونه به خدای تا ته کړي آسان غوندې
راشه د عدل مساوات لږ کوتې خوند وګوره
که پښیمان شوې د ربه کړمه څه تاوان غوندې

او یا وایي:

سرو صورت یوازی مه ګوره معنا وګوره
په سر کې فکر، زړه کې پټه مدعا وګوره
وینا یې واوره بیا یې وګوره عمل ورسره
میل و رغبت غایه، هدف او تمنا وګوره

او یا وایي:

حق او باطل نه معلومیږي حق بیان که نه وي
ظالم ته هیڅ نشي ویلی ټینګ ایمان که نه وي
پینځو روپو باندې یې ولې هره ورځ خرڅوې
دین و ایمان دې مسلمانه ډیر ارزان که نه وي
آه و فریاد د چا له لاسه دغه خلک کوي؟
چیرې بې رحمه، خدای ناترسه ظالمان که نه وي
دا میدانونه ولې سره دي په سرو وینو باندې
په هر هیواد کې شرمښان یا قصابان که نه وي
ولې له ظلم ناروا سره جهاد نه کوي
دا په نفلو باندې ولاړ ریاکاران که نه وي
ستوری د دین به درته وایمه ملا صاحبه!
دا ریا کاره بې عمله ملایان که نه وي
خوار و غریب او بینوا که په راحت و پکې
جنت یې بو لم خیر دی حورې او غلمان که نه وي

تل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک ، ټاپیلی ، نوښتیزه او فرهنګي ویب پاڼه



چې مظلومان کړي فریادونه د ظالم له لاسه
ورته دوزخ وایه هیڅ اور لړم ماران که نه وي
د ناداري دا ناداني دا بدبختي له څه ده !
زموږ کارونه زموږ فکر او خوی وران که نه وي

او یا وایي:

چې د نا پوهو نا خبرو توره شپه کړي رڼا

بلو ډیوو غوندې د پوهې کتابونه لرم
څوک چې له خدایه نه ویرېږي او ظلمونه کوي
زه په تش لاس ورسره خدایږو چې جنګونه لرم
راشی چې اور د ظالمانو په کورولګوو
پاک الله وایي چې ظالم ته دوزخونه لرم

او یا وایي:

که تا کینبوده د چا په سر ګلونه
هیر به نه کړي هیڅوک ستا دا احسانونه
ستا نیالګي که وکړي سیوری په خوارانو
په عاجز او په غریب او یتیمانو
آخرت کې به همدغه ستا په کار شي
ستا هغه جهان به هم ګل و ګلزار شي

او یا وایي:

یم شمع د تورتم په سر اورونه قبلوم
په زړه لکه لاله سوي داغونه قبلوم
ته وساته په زړه کې محبت د نازنینو
ما پرېږده چې د خوار غریب نازونه قبلوم
چې سترې او ستومان وي په خدمت کې د وطن
په سر او په لیمو یې قدمونه قبلوم

او یا وایي:

چې له وطن سره اخلاص ، صدق وفا نلري
ورسره جوړ نه یمه درس د وفا مه راکوه

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواک ، ناپیلي ، نوښتیزه او فرهنګي ویب پاڼه



چې ويده ويښ نکړي په ويښ باندې اثر ونکړي
هغه بې خونده بې تاثيره وينا مه راکوه
هغه کار وکړه چې يې ګټه ټول عالم ووينې
نور په خبرو او وعدو تسلي مه راکوه
پس له دې ظلم ناروا د هيڅا نه منم زه
دزور او ظلم فتوا مه راکوه
دابراهيم خليل الله قرباني ستايه راته
د خوف او ويرې سبق ماته ملا مه راکوه

چې نا اشنا وي له غمونو او دردونو سره
هغه بې غمه او بې درده اشنا مه راکوه
چې لکه شمع توره شپه د چا رڼا نه کاندي
ماته بې سوزه بې ګدازه ژړا مه راکوه

او يا وايي:

د ملي ژوند اساس خپلواکي ده
د ملي غرور ژوند ، سرلوړي ده
چې هر څومره ملت متحد وي
خپلواکي يې هغومره قوي ده
په ثقافت قوم ژوندی دی
کولتوري سرمايه يې هستي ده
په آزاد او خپلواکه وطن کې
روا کله په بل باداري ده

او يا وايي:

په رښتيا هغه ملت وي بختور
چې لري ملي نظام ملي رهبر
وي اصلي حاکميت د خلکو لاس کې
حکومت وي د ملي قدرت مظهر
جامعه پخپله وي په ځان حاکمه
دعامه افکارو وي قوي اثر

تل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک ، ټاټوبي ، پوهنیزه او فرهنګي ویب پاڼه



نه تبعیض نه امتیاز وي نه تبری
په حقوقو کې وي خلک برابر

او یا وایي:

د دې لوړو غرو وږمه یم راوېښ کړی مې پښتون دی
د میړانې سرنامه یم آزادي زما مضمون دی
دعبرت او ننګ نغمه یم هر آهنګ مې ډېر موزون دی
دخیبر غرونه رغونه ما په سرو وینو لړلي
غلیمان دپښتنو مې پښتنو باندې وژلي

او یا وایي:

قام جوړول دقام پالنه ستا سنت ګڼمه
دا تقاضا د طبیعت او د فطرت ګڼمه
ستا له طرفه اغیزه دقومیت ګڼمه
مینه دقام دانسانانو خاصیت ګڼمه
ځکه فرعون سره موسی جګړې جنګونه کړي
دقام دپاره ډېرو خلکو ډېر کارونه کړي

او یا وایي:

لباسي به درته وایمه جانانه که دې پرېښوده دپلار نیکه خویونه
پښتني به درته وایي بې ایمانه که پښتو شوه درنه پاتې ای پښتونه
واخله درس د سربازی ته له پتنګه لوی صفت د پښتونوالي قرباني ده
ډېر اوچت دی په مانا کې له اسمانه
دوطن د شهیدانو بیرغونه

او یا وایي:

شهرت د عقل له نامه د افلاطونه، نه ځي
د آزادی مینه هیڅکله له پښتونه، نه ځي
که هر څه لاړ شي له دې دهر او جهانه ځني
د بل له جغ لاندې ژوندي ویښ ملتونه، نه ځي

تل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ټاپلي، نوليزه او فرهنګي ويب پاڼه



د آزادۍ معراج ته نه رسیږي هغه کسان
چې دغیرت او ننګ په لار کې یې سرونه، نه ځي

او یا وایي:

فضیلت د انسان علم وعمل دی
که په سر یې پټکی او که ململ دی
په چپن او بالاپوش و نه غولیږې
ما د لنګ څښتن لیدلی مکمل دی

او یا وایي:

د افکارو تجلی یې نه ورکیږي
دچا زړه کې چې چراغ دعلم بل دی
په تورتم کې دې هغه سرې وي وړاندې
چې یې لاس کې د عرفان ښایسته مشعل وي

او یا وایي:

یو کړم مست بل محتسب کړم بل هوښیار کړم
یو بېدای کړم بل عالم کړم بل خوار کړم
ورته ګورم چې دوی څه کا یو له بله
ځکه یو دچا مزدور بل یې بادار کړم

او یا وایي:

کله زړونه کړم له تورو کاڼو سخت زه
عاطفه کړمه پیدا پکې بل وخت زه
راسره تیاره، رڼا، یخني، ګرمي شته
خوک راټیټ کړم ځیني کینوم په تخت زه

او یا وایي:

زه یم هلته چې نه غم نه مصیبت وي
نه سودا وي نه تشویش نه عداوت وي
مخالف په منځ کې نه وي واړه خپل وي
دیارانو خوږ مجلس ګرم صحبت وي
کدورت او ملال نه وي په خاطر کې

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواک ، ټاپیلې ، نولیزه او فرهنګي ویب پاڼه

د ملګرو اشنایانو جمعیت وي
د وینا په سود وزیان څه غوغانه وي
نه له چا سره حسد او رقابت وي

او یا وایي:

زه په برخه د هغوی یم چې جهان کې
مست په مینه د جمال یا حقیقت وي
غافل نه وي له ښایست او ښکلیتوبه
خدای ورکړی د بلبلو طبیعت وي
په نظر د محبت ګوري جهان ته
ورسره له خوشبینۍ ډک بصیرت وي
بدبخت نه وي له ازله پیدا شوی
خوی یې ښه، نظر یې ښه، ښه یې فطرت وي

او یا وایي:

زه پیدا یم له شعور او له احساسه
ما د زړه له کوره هیڅ کله مه باسه

مدام ژاړه په دردمنو رنځورانو
په بد حال او بده ورځ د غریبانو
په دنیا کې کونډې رنډې غریبان شته
په سل رازه زخمي زړونه په جهان شته
څوک چې سترګې لري کله وي بېغمه
اخلي برخه د یوه بل له ماتمه
غافل مه اوسه د نورو له احواله
چې نور ژاړي ته هم مه اوسه خوشحاله
زړونه سوځي سترګې ژاړي مصیبت کې
څرګندېږي محبت د غم شرکت کې
خپل خواخوږي په غمو کې معلومېږي
دوستان یو د بل په بده ورځ کړېږي

او یا وایي:

ټول افغان
www.tolafghan.com
خپلواک ، ناپیلي ، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه

په دنیا کې که عزت که اعتبار دی
د انسان د معایبو پرده دار دی
که څوک خپل عیب پټوي په دې پټېږي
ورکول یې د صحیح تربیت کار دی

او یا وایي:

رښتیانی دوست نه لري هغه سړی
چې په خوله باندې وي خپل په زړه پردی
محبت دلاس او ژبې اثر نه کا
که په مینه نه وي تود د زړه نغری

او یا وایي:

په دوستۍ کې که څوک چل او سیاست کړي
له دوستانو سره بل شانې صحبت کړي
رښتیانی دوست نه لري او نه یې مومي
که هر څو په خوله اظهار د محبت کړي

او یا وایي:

زړه پټ مه ساته هیڅکله له ملګریو
مه غل کیږه په دوستۍ کې د خبرو

دبل زړه ته مومي هغه سړی لاره
چې راووت د نفاق تګۍ له زغرو

او یا وایي:

یو پټ غلی احساس دی چې آرام مې نه پرېږدي
په اور مې کړوي لکه چې خام مې نه پرېږدي
جرءت مې زیاتوي دومره په ځان یمه پوه شوی
غافل له خپله حقه او غلام مې نه پرېږدي

او یا وایي:

دا چې لوېې په سرو سپینو هر سبا کړي
راته وایه چې دا هومره مغرور چا کړي

د دنیا په مینه مست یې بې شرابو
د هستۍ جنون له هر څه بې پروا کړې
د هغه په حال چې وریځ د اسمان ژاړي
ته پرې هر ساعت خندا لکه بریښنا کړې
له همدې خاورو پیدا خاکي انسان یې
نه پوهیږم دنیا ولې په هوا کړې

او یا وایي:

چې د غمجنو په حال سوځي هغه زړه غواړمه
دا سې پتنګ سره یو ځای خپل سوځیده غواړمه
لږ غوندې درد او دلسوزي د همدردۍ د پاره
که په کوم زړه کې ځای لري ترې ځاریده غواړمه
د سوز ژړا چې کله وینمه د شمعې په مخ
د رنځورانو سر ته هسې ژړیده غواړمه

او یا وایي:

که پخپلو هوسونو زورور یې
که په کور کې دې هیڅ نه وي توانګر یې
چې په غاړه دې د تمې زنځیر پروت وي
خورا ټیټ یې که ولاړ په جګ منبر یې

او یا وایي:

عزت نشته زورورو په حضور کې
لویي نشته تکبر او په غرور کې
قبلیدل د چا په درکې لوی ذلت دی
که نقصان نه وي په سترګو او شعور کې
له مانا او له کمال سره اشنا شه
موندل کېږي لوی عزت د علم نور کې

تل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ناپیلي، نوليزه او فرهنګي ويب پاڼه



او يا وايي:

چې په سمه لار څوک نه ځي بينا نه دی
چې عمل په علم نه کړي ملا نه دی
که يې فکر ستا له فکره مخالف وي
شپه او ورځ که در سره وي اشنا نه دی
لمر که راشي په تندي باندې له پاسه
ته چې ويښ له خوبه نه يې سبا نه دی
وړاندې وروسته د هر چا ډېوې مړې کېږي
تر سبا پورې څراغ بل د چا نه دی
چې په فکر، عقل، لوی نه وي ماشوم دی
چې په خوی باندې کمکی وي بابا نه دی

او يا وايي:

اراده او د کار عزم چې لري څوک
د هغه هر وخت کې شوی احترام دی
د عمل د خاوندانو په حضور کې
د وينا خاوند ولاړ لاس په سلام دی
نه په تشه وينا کار د چا سم شوی
نه موړ شوی کله تږی په تش جام دی

او يا وايي:

چې د ريا په طاعتونو خلق نه غولوي
په بزرګۍ او مساېلو پېسې نه ټولوي
صحيح اسلام هر چا ته ښيي حق باطل بېلوي
دا رنګه پير شيخ و ملا د قوم پېښنوا غواړو موږ

او يا وايي:

که بې رنګه بې ريا زهد و تقوی وي
له ټګۍ برګۍ چل ول نه مبرا وي
څوک يې کله بازارونو ته راباسي
سود سودا لره خو زهد د ريا وي

تل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ناپیلي، نوښتیز او فرهنګي ویب پاڼه



او یا وایي:

که طاعت او عبادت هر څومره کم وي
خدای دې نه کا چې شریک پکې صنم وي
په ریا چې د مخلوق د پاره کیږي
که شرک نه وي له ګناه سره به سم وي

او یا وایي:

چې رشوت نه خوري ظلم نه کړي او پوهیږي په کار
خوشې په خوشې نه کنځل او نه وهل کړي نه قار
په خوار غریب لري زړه سوی نه په ظالم او بد کار
هغه قاضي هغه حاکم هغه میرزا غواړو موږ

او یا وایي:

چې خدمت کاندي په رښتیا ملک و ملت د پاره
په حق چلیږي د انصاف او عدالت د پاره
په سمه لاره وي روان د حقیقت د پاره
دا راز ښه سړیتوب بې له ریا غواړو موږ

او یا وایي:

چې د ماغونو کې رڼا زړو کې سرور پیدا کړي
قوم و ملت کې د لوړتیا ذوق و شعور پیدا کړي
فکروعمل او اخلاق ښه کړي ښه دستور پیدا کړي
له مکتبونو علم و پوهه د رښتیا غواړو موږ

او یا وایي:

د وطن په محبت باندې قسم خورم
چې د ځان له غمه زیات د وطن غم خورم
د وطن د شرف سپریم نه وېرېږم

که د تورو ګوزارونه دم په دم خورم
دا خوږې، غوړې ګولې دې وي د نورو
د وطن دفاع کې زه ګولۍ د بم خورم

ټول افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ناپېلي، نوليزه او فرهنګي وېب پاڼه



کفن نه غواړم د ژوند جامو کې د رومم
د جنت باغ کې مېوې رقم رقم خورم

او يا وايي:

ژاړي په غمونو کې خواخوږي له هر چا سره
سل پتنګان سوځي ديوي شمعې ژړا سره
ډک زړګی له اوښکو ګرځي وريځې په اسمان کې بيا
څه ژړا ملګرې ده د ژوند يوې بريښنا سره
ټول باغ ژړيدلی ځکه اوښکې دي د ګل په مخ
ډېر لکه لاله داغلي زړونه شته صحرا سره
نه ښايي انسان ته چې د بل په غم غمجن نشي
لويه بدبختي ده که څوک نه ژاړي له چا سره
داسې بې غمي دې خدای په هيڅ کور کې پيدا نکړي
يو کور کې چې ويروي او بل خاندي له ليلا سره

او يا وايي:

بصيرت او علم نشته په کتاب کې
که څه نه وي د مغزو په پيچ و تاب کې
علم او پوهه بل شی نه دی بينايي ده
خوشې ناست يې پټې سترګې په محراب کې

او يا وايي:

په ضعيفه اراده عقل حاکم وي
که قوي وه اراده نو بيا خادم وي
د بشر خدمت ته عقل پيدا شوی
په دې شرط چې روغ و جوړ صحيح سالم وي

او يا وايي:

د انسان جوهر د ژبې ګويايي ده
همدغه يې زيبايي او دارايي ده
بې له ژبې هيڅوک هيڅ نشي موندلای
دانايي دلربايي که بلايي ده

او يا وايي:

ټول افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، تاريخي، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه



نه يې زړه کې صداقت، مينه وفا شته
نه يې سترګو کې څه شرم او حيا شته
سياست لري څو مخه څو اړخونه
وخت په وخت يې خوله کې سل ژبې ګويا شته

او يا وايي:

پرستش د يوه تن بت پرستي ده
د مسلک پيروي لويه آزادي ده
په کوم ځای کې چې يو فکر کړي کارونه
هلته خوشې مهمل لفظ ديموکراسي ده

او يا وايي:

په جهان کې چې مردوده باداري شوه
روحاني رنګ يې راووته پيري شوه
د پيرۍ او مريدۍ بازار چې سوړ شو
سياسي رنګ يې پيدا کړ ليډري شوه

او يا وايي:

په رڼا کې د لمر څومره لوی حکمت دی
ژوند د پاره ډير ضرور دا حرارت دی
مګر ګوره د اسمان سپيني سپوږمۍ کې
خاوند اينبی د جمال شعري کيفيت دی

او يا وايي:

ښځه حق لري د ژوند او کار کولو
لکه نر د لياقت څرګندولو
په دې شرط چې اهليت وښيي کار کې
نه چې ځان ښيي په ځان سينګارولو

او يا وايي:

په سر کې فکر د وطن په زړه کې مينه د يار
د زور او ظلم لوی دښمن د ازادۍ طرفدار
په حق ويلو ماتوي بت او طلسم د ډار
شاعر د پاره مناسب دی همدغسې شعار

ټول افغان
www.tolafghan.com
خپلواک ، ټاپيلي ، ټولنيزه او فرهنګي ويب پاڼه



او يا وايي:

ستا دلبر غونډې دلبر په جهان نشته
ستا دعشق په باغ و بڼ کې خزان نشته
غمجن مه او سه راځه رقيبان نشته
دليلی په دروازه کې دربان نشته
پاڅه بيا يو ځل سيراب دعشق په جام شه
په ساغر د ماه و مهر مې آشام شه

او يا وايي:

بيا وطن ښکاري تازه نوی بهار دی
بيا په غاړه د هر چا دګلو هار دی
باغ کې ځوړند دي دګلو امېلونه
ته خو ګوره ! ورته څنګه ښه ګلزار دی
هر طرف ځانګې ښايسته غونچې د ګلو
د مستۍ دوره راغلې په بلبلو
ښې نغمې له هرې خوا غوږ ته رسيږي
په رښتيا چې بهار وړ دی دستايلو
نن هر چا ته خپله سيمه ښه ګلزار دی
دا تاثير خدای نصيب کړی د بهار دی
مرغۍ باغ کې دي خوشحاله زرکې غرو کې
هر طرف ته چې نن ګورې لاله زار دی

او يا وايي:

خوله پرانېزي دګلشن غوټۍ سبا ته
د زړه غوټې ببرته کېږي خپل اشنا ته
ما د خپل فکر محرم په جهان نه موند
نا اشنا فکرو سره راغلم دنيا ته

او يا وايي:

له اسمانه څاڅکي راغله د باران
پرې راشنه شوه سپين او سره او زيړ ګلان
يو څو ورځې پس بې باد و يوړلې پاڼې
خپل آغاز انجام هيڅ نه شو ورعيان

تل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ټاپیلي، ټولنیزه او فرهنګي ویب پاڼه



او یا وایي:

د جنت حورو زړه وړی د زاهد دی
په همدې فکر ولاړ خدای ته عابد دی
د ښایسته حورو په لاس جامونه وینې
ځکه تېر له خپله سره مجاهد دی

او یا وایي:

ښکلی توب دی چې هر چا زړه پرې بایللی
چا په یو شان چا په بل شان دی لیدلی
بلبلان ورپسې ځي د باغ په لوري
پتنګانو اور ته ځان ورغورځولی

او یا وایي:

پتنګ په شمع بلبل مینه په سرو ګلو
عاشقان فخر په دیدار د نازولو کوي
تا په ملالو اثري سترګو زړه وړی زما
دلبران واړه د زړه ښکار په تش کتلو کوي
د هر چا خوښه چې په مال که په کمال پسې ځي
زه یې عبث بولم چې مینه بې د ښکلیو کوي
هغه پاک زړه چې د خوبانو خاص حرم باله شي
څوک به یې ولې ځای د هر خیال د ساتلو کوي
د ښکلیو خیال که له شاعر سره ملګری نه وي
ډېر غولیدلی که هوس د شعر ویلو کوي

او یا وایي:

چا چې ایښی دا شین خال ستا په جبین دی
زما زړه هم دغه له لاسه شین دی
ستا امیل کې یې سل زړونه دي پېیلي

چا جوړ کړی ستا د غاړې لونګین دی
جوړه شوې یې د لمر له پلوشو نه
ستا د عشق پر حرارت مې دا یقین دی

تل افغان
www.tolafghan.com
خپلواک، ناپېيلي، نوليزه او فرهنګي ويب پاڼه



سور سالو دې سره لمبه ده نه پوهيږم
که زما دزړه په سرو وينو رنګين دی
دجمال پرښتې ته چې جوړولې
ورلېږلې چا سلام چا آفرين دی
معجزه ته د قدرت او دخلقت يې
په رښتيا چې خدای احسن الخالقين دی
خدای دې ساته په امان له بدو سترګو
دا دعا د پرښتو زموږ آمين دی

او يا وايي:

چې تور اوربل په سپين مخ ووينم غزل جوړوم
بل کار مې نشته شهلا سترګو ته کجل جوړوم
بکره معنی ښکلې کومه د هنر په سينګار
دفوق ليلی ته د ښکلاو تاج محل جوړوم
تورې تياري چې ورکې کړم د حقيقت له مخې
له عشقه اور اخلم له ځانه روڼ مشعل جوړوم
چې افسانه شمه په عشق کې زمانو ته يادګار
لکه مجنون ځان نه د عشق ضرب المثل جوړوم

په رښتيا سره که د الفت صاحب اشعارو ته په دقت سره پاملرنه وشي، د ده شعرونه ډير خواږه، خوندور، ښکلي او جذاب دي. دده زياتره شعرونه انتقادي، اجتماعي او ملي بڼه لري، او لوی حکمت او لذت په کښې نغښتی دی.
الفت صاحب واقعا دلوړې پوهې او علميت خاوند شخصيت دی. د ده په شعرونو کې د قلم زور او قوت، د کلام فصاحت او بلاغت له ورايه معلوميږي. د ده شعرونه او نثرونه ساده او روان دي، همدا وجه ده چې د ده شعري کليات څو ځله چاپ شوې دی او دټولو ادب دوستانو او دشعر د مينه والو په کاله کې لکه د نورو شاعرانو او ليکوالانو ديوانونه موجود دی. اروا ښاد عبدالحی حبيبي چې زموږ د هيواد شاعر ، نامتو ليکوال، څيړنيز پوه، تاريخ پوه او تکړه ژورناليست دی د الفت صاحب دنظم او نثر په هکله داسې وايي:
(دالفت نثرهم شعر دی او نظم يې هم شعر دی. دی وايي کله کله د هغه نثر تر نظم خوږ وي. خلک وايي چې نظم پيودل دي او يو ناظم مرغلري پيودي، مګر زه وينم چې الفت په نثر کې بلا کوي او کله کله الفاظ هسې سره پيودي چې ترهر رنګه نظم ښه ښکاري.)

تل افغان
www.talafghan.com
خپلواکه، ناپیلی، ټولنیزه او فرهنګي وېب پاڼه



د الفت صاحب شعر اوشاعري،او د ده اجتماعي، سیاسي، انتقادي، ادبي، دیني او ملي مضامین او مطالب د پښتو ادب په ډګر کې دقدر او ستاینې وړ دي. الفت صاحب نه یوازی په پښتو ژبې لیکنې کړې دي، بلکې په نورو ژبو کې هم لیکنې لري. ده په دري- فارسي ژبه هم اشعاراو نثرونه لیکلي دي، خو له بده مرغه دا لیکنې اوس محال په لاس کې نشته.دیادونې وړ ګڼم، د ویښ زلمیانو دملي غورځنګ په جوړښت کې زموږ د هیواد یو شمیر منورو ځوانانو، پوهانو، سیاسي، اجتماعي، ادبي اوملي شخصیتونو فعاله برخه درلوده، یو له دغو اشخاصو څخه استاد ګل پاچا الفت هم و.

الفت صاحب د دغې غورځنګ فعال غړی و، اود (ولس د جریدی )چې د دغې غورځنګ نشراتي ارګان و د امتیاز خاونداود دغې تحریک ویاند هم و.

زموږ یو شمیر لویو شاعرانو، ادیبانو او لیکوالانو دالفت صاحب پر شاعری او لیکوالی خپلې څېړنې کړې دي،او خپل نظریات او په زړه پورې تحقیقات یې لیکلي دي، چې د دوی دا لیکنې د قدر او ستاینې وړ دي.

لنډه دا چې دالفت صاحب د شخصیت په هکله که هر څومره ولیکل شي بیا هم کم دي. کله چې ما دالفت صاحب شعري کلیات ولوستنو زه هم دې ته وهڅیدم چې د ده د شخصیت په هکله یو څو کرښې ولیکم.

اروانباد ګل پاچاالفت صاحب په (۱۳۵۲)کال د لیندی د میاشتی په (۲۸ ) نیټه د زړه دحملې په اثر دعزیز خان په کڅ کلي کې، چې د ژوند په آخرو وختونو کې هلته اوسیدو وفات شو، او د دوی په پلرنې هدیره کې خاوروته وسپارل شو.

اروا دې ښاده وي او د لوی خدای څخه ده ته د فردوس جنت غواړم.



ددغې مقالې په لیکنه کې د بیلابیلو انټرنیټي منابعو او دالفت صاحب په شعري کلیات استناد شوې دی، خو بیا هم که چیرې زما په لیکنه کې ځینې نیمګړتیاوې موجود وي. د ټولو ګرانو ادیبانو او لوستونکو څخه مخکې له مخکې بښنه غواړم.